ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۲۱

نېټه: شنبه، د ربيع الاول ۲۹ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال



## سرليکنه





د قوش‌تېپې کانال د افغانستان په تاريخ کې لويه حياتي، پراختيايي او اقتصادي پروژه ده. ويل کېږي چې دومره ارزښتناکه پراختيايي پروژه د افغانستان په تاريخ کې نه ده ترسره شوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل لوړ پوړي امارتي پلاوي له لوري د روان لمريز کال د ميزان مياشتې په ۱۹ مه نېټه د ياد کانال د لومړي فاز د ګټې اخيستنې او د دوهم فاز د چارو د پيل پرانيسته وشوه.

محترم ملا صاحب د قوش تېپې کانال اهميت ته په اشاري سره وويل، د قوش تېپې کانال د افغانانو د لسيزو خوب تعبير دی، دا د هغوی د ستړياوو او خولو پايله او د ځان بسياينې په لور د پورته کېدونکو ګامونو يوه بېلګه ده.

داچې اوبه ستر نعمت دی؛ نو هغه ملتونه، قومونه، سيمې او هېوادونه چې د اوبو زېرمې لري، نېکمرغه دي. افغانستان له دې نعمت څخه برخمن دی او د خوږو اوبو پربمانه زېرمې لري، خو تر دې مهاله لکه څنګه چې په کار وه، ګټه نه ده ترې اخيستل شوې. د امو سيند چې د هېواد په شمال کې موقعيت لري، د افغانستان او مرکزي آسيا هېوادونو له مشترکو سرچينو څخه راپيلېږي، څه باندې درييمه برخه اوبه يې د افغانستان له سرچينو دي، خو افغانستان ترې بې برخې و. د سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پرمهال په ۱۳۵۴ لمريز کال کې پر آمو سيند د قوش تېپې کانال د جوړېدو پلان چمتو شوی و، مګر د جوړېدو له پاره يې عملي ګام پورته نه شو او همداسې د کاغذ پرمخ پاتې شو.

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د هېواد په شمال کې د قوش تېپې کانال عملي چارې د ۱۴۰۱ لمريز کال په لومړيو کې پيل شوې. ياد کانال چې په دريو فازونو کې ډيزاين شوی دی، د لومړي فاز چارې يې دادي بشپړې او د دوهم فاز چارې يې پيل شوې. له کله چې ددې ستر کانال د جوړېدو چارې پيل شوي دي، نو د افغانستان يو شمېر ګاونډيان له دې امله اندېښمن دي چې هسې نه دا کانال د افغانستان د شمالي ګاونډيو هېوادونو د اوبو پر وېش ناوړه اغېزه وکړي. خو اسلامي امارت د خپل ناپيېلي بهرني سياست له مخې هېڅ وخت نه غواړي ګاونډيو هېوادونو ته زيان واړوي او يا هم خطر ورته متوجه کړي. البته دا يو ټکی شته چې له خپل حق څخه په هېڅ صورت نه تېرېږي او ګاونډيو هېوادونو ته هم دا خبره کوي چې د نورو حق نه خوري، خو خپل حق هم چاته نه پرېږدي. نو د آمو په سيند کې د افغانستان حق تثبيت او افغانان په قانوني لحاظ غواړي له دې حق څخه ګټه پورته کړي او خپلې شاړې دښتې زرغونې او د کرنې په برخه کې خودکفايي ته ورسېږي. په دې اړه د لومړي فاز د ګټې اخيستنې او د دوهم فاز د چارو د پيلېدو په پرانيستغونډه کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د دې کانال د جوړولو موخه چاته زيان رسول نه دي، بلکې يوازينۍ موخه يې د افغانانو ځان بسياينه او د افغانستان له طبيعي سرچينو په ښه ډول ګټه اخيستل دي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت کلک هوډ لري چې دغه کانال بشپړ کړي او د هېواد په شمال کې شاړې دښتې په کرنيزو ځمکو بدلې او د کرنيزو محصولاتو په برخه کې افغانستان پر ځان بسيا کړي چې دا د اسلامي امارت ستره لاسته راوړنه او د افغان ملت د کلونو خوب تعبير دی.

## د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د ګټې اخيستنې او د دوهم فاز د چارو د پيل پرانيسته وشوه



په يادو مراسمو کې د رياست‌الوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د رياست‌الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، د کورنيو چارو وزير خليفه صاحب سراج‌الدين حقاني، د ملي دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد، د استخباراتو لوی رئيس محترم ملا عبدالحق وثيق، د کانونو او پټروليم وزير شيخ شهاب‌الدين دلاور، د ماليې وزير ملا محمد ناصر اخوند، د اقتصاد وزير قاري دين محمد حنيف، د اوبو او انرژۍ وزير ملا عبداللطيف منصور، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزير مولوي عطاءالله عمري، د لوړو زده کړو وزير شيخ ندا محمد نديم، د صنعت او سوداګرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير ملا حميدالله اخوندزاده، د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال الحاج شيرمحمد عباس ستانکزی، د چارو اداري لوی رئيس شيخ نورالحق انور، د افغانستان بانک لومړی مرستيال نور احمد آغا، د رياست‌الوزراء د دفتر لوی رئيس محترم ډاکټر عبدالواسع، د بلخ والي الحاج محمد يوسف وفا، د ملي پراختيا شرکت رئيس محترم عبدالرحمن عطاش، د بلخ علماوو شورا رئيس او غړو، واليانو، علماوو، مشرانو، سپين‌ږيرو او ګڼ شمېر نورو امارتي او ملکي مسوولينو ګډون کړی و.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو

مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د قوش‌تیپې کانال د افغانانو د لسیزو خـــوب تعبیر دی، دا د هغوی د ستړیاوو او خولو پایله او د ځان بسیاینې په لور د پورته کېدونکو گامونو یوه بېلگه ده.

افغانســـتان په ډېرو برخو کې په وارداتو تکیه دی چې یـــوه برخه یې خوراکي توکي دي، په داســـې حال کې چې افغانســـتان یو کرنیـــز هېواد دی او پرېمانه اوبه لري. اســـلامي امـــارت د یو خودکفا افغانســـتان لپاره د اوبو مدیریت او د کرنې ودې ته پوره پاملرنه کړې ده، چې د دغه کانال جوړېدل یې تر ټولو ښکاره مثال دی.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د دې کانال د پیل پر مهال له ما سره د بودیجې او په وخت یې د کارونو د بشپړولو په اړه اندېښنه وه، خو عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له مالي اړخه پوره اطمینـــان راکړ او موږ یې هم د ملي پراختیا شرکت له رښتینو او متعهدو کارکوونکو سره یوځای د جوړېدو په چارو پیل وکړ، چې دادی اوس یې الحمدلله لومړی فاز بشپړ شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دې کانـــال د جوړولو موخه چاته زیان رســـول نه دي، بلکې یوازینۍ موخه یې د افغانســـتان سرلوړي، د افغانانو ځان بســـیاینه او د افغانســـتان له طبیعي سرچینو په ښـــه ډول گټه اخیستل دي. هغه زیاته کړه، د ویاړ ځای دی چې له خلوېښت کلن ناورین وروسته دومره ستره پروژه د افغانانو له لوري ډیزاین، پلې او ټول مصارف یې له ملي بودیجې تمویلېږي.

د غونډې په پـــای کې محترم ملا صاحب وویل، زه ټول افغان ولس، په پروژه کې زیارکښو انجنیرانو او په ځانگړې ډول د ملي پراختیا شرکت رئیس محترم عبدالرحمن عطاش ته د دغه کانال د لومړي فاز د بشـــپړېدو او د دوهم فاز د پیـــل مبارکي وایم. دا کانال د ټولو افغانانو ویاړ او افتخار دی او ټول به یې د بشپړولو لپاره کلک ملاتړ کوو.





# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند: ما حاکمان افغانستان نه، بلکی خادمان ملت خویش هستیم

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سفر خویش به ولایت هرات در نشستی که در مقام آن ولایت تدویر گردیده بود، اشتراک و سخنرانی نمود.

در این نشست ملا محمد عباس آخند وزیر دولت در امور رسیده‌گی به حوادث، ملا عبدالحق همکار معین مبارزه علیه مواد مخدر وزارت امور داخله، مولوی نور جلال جلالِی معین اداری این وزارت، شیخ‌الحدیث نوراحمد اسلام جار والی هرات، رئیس و اعضای شورای علماء، قوماندان قول اردو ۲۰۷ الفاروق، بزرگان و متنفذین، نماینده‌گان سکتور خصوصی و شماری مسوولین ملکی و امنیتی اشتراک نموده بودند.

محترم ملا صاحب در سخنان خویش گفت، ناشی از زلزله در ولسوالی زنده‌جان تلفات زیادی جانی و خسارات هنگفت مالی بر هموطنان ما وارد گردیده است. ما از این حادثه المناک ابراز تأثر و تألم نموده برای شهدا جنت الفردوس، به بازماندگان صبر جمیل و برای مجروحین شفای عاجل از دربار الله (ج) استدعا می کنیم.

محترم ملا صاحب افزود، هدف آمدن ما تنها برای ابراز تسلیت نبوده بلکی این مسوولیت ما است که در این شرایط دشوار به ملت خود کمک و از آنها حمایت نماییم، ما حاکمان افغانستان نه، بلکی خادمان ملت خویش هستیم.

محترم ملا صاحب گفت، ما از یک سو با این حادثه المناک مواجه گردیده ایم، از سوی دیگر احساس خوشی بخاطری کردم که محبت، اتحاد، کمک و همکاری را در میان مردم هرات مشاهده نموده که بر آن افتخار نمودم.

محترم ملا صاحب افزود، ما به منظور بازدید از مناطق زلزله زده به ولسوالی زنده‌جان رفتیم، در آنجا از ساحات تخریب شده و هموطنان آسیب

دیده خود دیدن نمودیم و در نماز جنازه شهدا شرکت کردیم، سپس جهت عیادت مجروحین به شفاخانه حوزوی ولایت رفته و به هدف تداوی لازم زخمی‌ها برای تیم های طبی هدایات لازم داده که ان‌شاءالله به وجه احسن معالجه گردند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در این نشست گفت، امارت اسلامی افغانستان برای نجات هموطنان آسیب دیده از تمامی امکانات خویش استفاده نموده و همه وزارت خانه ها و ادارات ذیربط مصروف رساندن کمک های عاجل برای آنها بوده و به شما اطمینان می دهم که در بدل منازل تخریب شده برای شما سرپناه های را به شکل اساسی و پخته اعمار خواهیم نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود، به همه مسوولین امارتی هدایت داده ام که کمک‌های جمع آوری شده را به طور شفاف بر هموطنان مستحق ما توزیع نمایند و در این بخش کمیسیون ایجاد گردیده است.

محترم ملا صاحب از تمامی شهروندانی که به حد توان برای زلزله زده ها کمک و مساعدت نموده اند، تشکر و امتنان نموده و یک بار دیگر از همه تاجران ملی، ثروتمندان، بنیاد های خیریه و مؤسسات خواست تا در این وضعیت دشوار با هموطنان زلزله زده کمک و مساعدت نمایند و زنده‌گی شان را نجات دهند.

همچنان محترم ملا صاحب از اداره ها و سازمان های جهانی کمک رسان خواستار آن شد تا با افغان های آسیب دیده‌ای ناشی از زلزله کمک های همه جانبه نمایند و در این حادثه دلخراش با کمک های خود از آن ها حمایت کنند.



# در شهر کابل تا اکنون ٤٣٤٦٤ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۳۴۶۴گدا تا بیست میزان سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۲۹۹زن ، ٦٧٠٢مرد و بقیه ۲۲۴٦۳طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۱ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسلهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.



# The Completion of Phase 1 and Commencement of Construction for Phase 2 of Qosh Tepa Canal Inaugurated



In addition to the Deputy PM for Economic Affairs, the Deputy PM for Administrative Affairs, Maulvi Abdul Salam Hanafi, the Minister of Interior, Sirajuddin Haqqani, the Minister of National Defense, Maulvi Mohammad Yaqub Mujahid, the Chief of Intelligence, Mullah Abdul Haq Wasiq, the Minister of Mines and Petroleum, Sheikh Shahabuddin Dilawar, the Minister of Finance, Mullah Mohammad Nasir Akhund, the Minister of Economy, Qari Din Mohammad Hanif, the Minister of Water and Energy, Mullah Abdul Latif Mansour, the Minister of Agriculture, Irrigation and Livestock, Maulvi Ataullah Omari, the Minister of Higher Education, Sheikh Nida Mohammad

Nadeem, the Minister of Industry and Commerce, Alhaj Nooruddin Azizi, the Minister of Transport, Mullah Hameedullah Akhundzada, the Political Deputy Minister of Foreign Affairs, Alhaj Sher Mohammad Abbas Stanakzai, the Chief of Administrative Affairs Office, Sheikh Noorul Haq Anwar, the First Deputy Governor of Da Afghanistan Bank, Noor Ahmad Agha, the Chief of the PM Office, Dr. Mullah Abdul Wasi, the Governor of Balkh, Alhaj Mohammad Yusuf Wafa, the Chairman of the National Development Corporation, Abdul Rahman Attash and many other government officials and civil leaders participated in the ceremony.

During his address at the ceremony, Mullah Baradar Akhund expressed, "The Qosh Tepa Canal embodies the decades-long aspirations of the Afghan people, reflecting their tireless efforts and dedication to self-determination. Afghanistan relies on imports in many aspects, including food, despite being an agricultural nation with ample water resources. The Islamic Emirate is steadfast in its commitment to water management and agricultural development, of which the construction of this canal stands as a prominent example."

He went on to mention his initial concerns about the budget and timely completion of the canal's construction, but assured that Amirul Momineen Sheikh Hibatullah Akhundzada provided the necessary financial and social assurance. Mullah Baradar Akhund commended the sincere and dedicated efforts of the National Development Corporation employees, which, combined with their collaboration, led to the successful completion of the first phase.

The Deputy Prime Minister for Economic Affairs emphasized that the canal's construction aims not to harm anyone, but to benefit Afghanistan's development and self-sufficiency, utilizing the nation's natural resources for the greater good. He proudly noted that after 40 years of hardships, Afghans themselves have designed such a significant project, with all expenses financed from the national budget.

In conclusion, Mullah Baradar Akhund congratulated the entire Afghan populace, especially the Director of the National Development Corporation, Abdul Rahman Attash, and his team, for their dedicated work in completing the first phase of the canal. This canal stands as a source of pride and honor for all Afghans, and he affirmed the commitment to its continued progress under all circumstances.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســراى کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۵.۰۰؋ | ۷۵.۰۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٦۲؋ | ۲٦۳؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۵۳؋ | ۱,۵۵؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۸۰,۵۰؋ | ۸۰,۰۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲۰؋ | ۱,۳۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۹۸۰؋ | ۱۰۲۰؋ |
| ۱ | انگليسي پوند | ۹۲.۰۰؋ | ۹۲.۵۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,٦۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲٤,۳۰؋ | ۲٤,٤۰؋ |
| ۱ | چيني ين | ۱٦,۵۰؋ | ۱٦,٦۰؋ |